**ایا د ډیموکراسۍ د رد وخت نه دی را رسېدلی؟! دا نظام حتا هغه کسان هم وژني چې یو وخت یې د همدغه نظام بیراغ پورته کړی و**

د مصر دولتي ټلویزیون د ۲۰۱۹م کال د جون په ۱۷مه د دغه هېواد د پخواني ولسمشر محمد مرسي د مړینې خبر خپور کړ. نوموړی له حماس سره د اړیکو لرلو په قضیه کې د محاکمې پرمهال له بېهوښۍ وروسته د زړه د حملې له امله مړ شو.

ډاکټر مرسي به د خپلو اعمالو بدله وويني، خو اوس يې دې خدای وبښي. دی هغه مهال وفات نشو چې په مصر کې يې اسلام نه پلی کاوه، بلکې د ظالم نظام لخوا له شپږ کلن بند وروسته وفات شو. یاد نظام هره ورځ د کنانه (مصر) د بچیانو وینه تویوي. موږ له الله سبحانه وتعالی څخه مرسي ته د نورو خلکو په څېر له دې امله بښنه نه غواړو چې د مصر ولسمشر یا د ډیموکراسۍ د لارې شهید و، بلکې له دې امله یې غواړو چې د اسلامي امت بچی و او په داسې حال کې وفات شو چې دولت یې روغتیا ته هېڅ پام نه و کړی. مرسي له زندان پرته بل ډول ژوند هم کولی شوی، خو هغه د سیسي د دولت غیر انساني زندان غوره کړ. نو له همدې امله موږ وایو؛ هغه څوک چې د حق په لټه کې وي او حق ونه مومي، له هغه چا سره برابر نه دی چې د باطل په لټه کې وي او ورته ورسېږي. اوس یې دې خدای «ج» وبښي او د هغه او نور امت پر قاتلینو دې الله سبحانه وتعالی خپل قهر را نازل کړي.

البته په محمد مرسي دې اوس خدای «ج» ورحمېږي، د هغه په مرگ سره د حل لارې د لټولو لپاره نورې لارې هم پرانیستل شوې. په غالب گومان موږ د اخوان المسلمین له پخوانیو دریځونو  څخه د راښکته کېدو شاهدان یو، ځکه د محمد مرسي په مړینه کې دعوتگرو ته د پام وړ درسونه او عبرتونه پراته دي.

لومړی خو دا چې ډیموکراسي حتا هغه کسان هم وژني چې یو وخت یې د همدې بشري ایډیالوژۍ بیراغ پورته کړی و. د دې تر څنگ ظالمانو ته تمایل او زړه ښه کول همداسې ناوړه پایلې لري او په کفري نظامونو پورې تړل کېدل نه دین او نه هم دعوت ته گټه رسوي. موږ د داسې کسانو پایله څو ځله تجربه کړې چې په کفري نظامونو کې برخه اخلي او له دې لارې د اسلام د پلي کېدو هڅه کوي او دا حالت په اصل کې یوازې د مزدورۍ او کفر د پلي کېدو دوام دی. د دغه حالت څرگنده بېلگه په عمرالبشیر، اردوغان او مرسي کې د دوی د واکمنۍ پر مهال لیدلی شو. موږ مرسي ته نصیحت وکړ او د دغه کار له پایلو مو خبر کړ، خو هغه زموږ خبرو ته غوږ ونه نیو. الله سبحانه وتعالی یې دې اوس گناهونه وبښي.

اې د کنانه (مصر) مسلمانانو! په محمد مرسي پورې تړلو کسانو چې د کوم مشرعیت ستاینه کوله، هغه مشروعیت اوس د ده له مرگ سره سم ختم شو. په داسې حال کې چې مرسي له گوښه کېدو سره سم له هغه وړاندې وفات شو؛ نو تاسو باید همغه مهال ډیموکراسي رد کړې وی. ډیموکراسي هغه مشروعیت نه و، کوم چې تاسو یې په لټه کې وئ، بلکې داسې وسیله وه چې تاسو یې پرې لگیا او په دام کې راگیر کړئ. په دې سره د امریکا مزدورانو په پوځ کې خپلې پښې ټینگې کړې، ستاسو انقلاب یې غلا کړ او له همغه وخت راهیسې مو په دوامداره توگه وژني.

خو اوس هم وخت شته، خپلې انگېزې او نیتونه مو نوي کړئ او هغه غلا شوی انقلاب مو له سره پیل کړئ. له هغو فرصتونو څخه گټه پورته کړئ، چې په لاس درځي. خپل حق وغواړئ او قدرت مو د امریکا او د هغو د گوډاگیانو له منگولو بېرته واخلئ. د پانگوالۍ د دغه خوسا نظام ریښې وباسئ او د نفوذ لارې یې بندې کړئ. غوښته او موخه مو باید دویم راشده خلافت وي، څو ستاسو په واسطه تاسیس شي او که په دې لاره کې مړه هم شئ، مرگ مو د ویاړ مرگ دی. دا هماغه رښتینی مشروعیت دی چې باید لاسته یې راوړی؛ نه هغه ډیموکراتیک مشروعیت چې غرب مو ورته جذبوي او له اسلام او دویم راشده خلافت څخه مو لرې کوي، هغه خلافت چې ستاسو بریالیتوب پکې نغښتی. هغه خلافت چې حزب التحریر یې په بشپړه توگه پلان او پروژه لېږدوي.

اې د کنانه (مصر) په پوځ کې مخلصینو! تاسو د نظام په تېروتنو او گناهونو کې مسوول یئ. حتا که په گناه کې گډ نه وئ، خو د مظلومانو او غریبو خلکو  پر وړاندې ستاسو چوپتیا په گناه کې د شریک کېدو په مانا ده. قدرت ستاسو په لاس کې دی او د اسلام لپاره گټه ترې واخلئ، ځکه له الله سبحانه وتعالی سره د سیسي په پرتله ښه اجر او بدله شته. سیسي هغه رشوت د امتیاز په توگه درکوي، چې پرې اخیستي یې یئ. تاسو یې له ځان سره ملگري کړي یئ او دې ته مو اړ کوي چې د مصر پر خلکو د روان ظلم پر وړاندې چوپ واوسئ. پوه شئ چې دا پیسې او شتمني تاسو ته هېڅ گټه نه لري او له الله سبحانه وتعالی څخه مو نشي بې نیازه کولی. له الله سبحانه وتعالی سره ډېر ښه او تل پاتې نعمتونه دي او د دغو ناڅیزه شیانو په واسطه یې له لاسه مه ورکوئ. د دغه مزدور او لاسپوځي نظام په له منځه وړلو کې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم لاره تعقیب کړئ. له خپلو ورونو (د حزب التحریر له شبابو) سره لاس یو کړئ او د نبوت پر منهج یو ځل بیا خلافت تاسیس کړئ. خلافت به د مصر خلکو ته هغه څه ورکړي، چې هیله یې درلوده او د هغو لپاره را پورته شوي او سرکونو ته راوتلي وو. له دغو ټولو غوره یې لا دا چې پروردگار مو درڅخه راضي کېږي او پر تاسو به د پرښتو په مخ کې ویاړي.
پروردگاره! زموږ دا غوښتنه نوره مه ځنډوې او ژر تر ژره یې پوره کړې.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾**

[الانفال:۲۴]

***ژباړه:*** *اې ایمان لرونکو! د الله سبحانه وتعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایئ، په داسې حال کې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مو هغه شي ته راوبولي چې تاسو ته ژوند دربښي. په دې پوه شئ چې الله سبحانه وتعالی د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حایل دی او د همغه په لوري به راټول شئ.*

**د حزب التحریر ولایه-مصر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ ق کال، د شوال ۱۵مه**

**۲۰۱۹م کال، د جون ۱۸مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۱۰**